# د پښتنو د اصل نسل په حقله د مختلفو نظريو پرتليز جاج

## Analysis of different theories regarding the origin of Pashtuns

Nagina Bibi [1]


### ABSTRACT:

*Regarding the origins and ancestry of Pashtuns, numerous methods and hypotheses have been proposed for a very long time. In addition to various Pashtun authors, some Orientalists have attempted to address the subject of what ethnic group Pashtuns belong to. Which tribe do they belong to? And the location of their initial occupant, etc. However, no one has provided such guarantees about these fundamental inquiries up until now. In this study, we attempted to conduct a comparative analysis of various hypotheses and viewpoints regarding the ethnicity and ancestry of the Pashtun tribe that have been put forth by various authors.*


Pukhtunkhwa Journal

[1] PhD scholar, Pakhtunkhwa Study centre, Bacha Khan University, Charsadda

پښتانۀ څوک دي؟ دا يؤ داسې مهم سوال دے چې د هر چا پۀ ذهن کښې راځي او سړے دې ته مجبوروي چې د پښتنو د اصل نسل پۀ حقله دا کره کتنه ؤکړي چې پښتانۀ نسلاً څوک دي؟ د کومې قبيلې سره تعلق لري؟ د کوم ځاے نه راغلي دي او وړومبے استوګن ئې چرته ؤ؟ د دې څو مهمو سوالونو سره نور هم ډېر ضمني سوالونه تړلي شوي دي چې د پښتون نامې اوربدلو سره سم د انسان په مزغو کښې راپېدا کيږي. د دې سوالونو د حل کولو په لړ کښې بلها ډېرو پوهانو او ليکوالانو وخت پۀ وخت د خپلې پوهې او څېړنې مطابق بېلابېلې نظريې وړاندې کړي دي او دا هڅه يې کړې ده چې د پښتنو د اصل نسل خبره په ډاګه کړي ځکه چې يؤ ضرورت شته او هغه عقلي او منطقي جواز هم لري چې ګنې ايا زۀ څوک يم؟ زما رګ ريښه څۀ ده؟د کله نه د يوې ټولنې يا يوې قبيلې سره نسبت لرم؟ او يا داسې نور ډېر سوالونه .ددې جواز په بنياد قامونو همېشه د ضرورت نه زيات د تعصب، واک، اقدار، امتياز، او حرکيات خپل کړي دي. پښتانۀ هم چې کله د خپل تاريخ باب راسپړي نو د دغه رنګ بېلابېلو پړاوونو سره مخ کيږي.

د پښتنو د اصل نسل مسئله نۀ خو مذهبي ده اؤ نۀ سياسي چې په مذهبي نقطه نظر يا د سياست د يوې خاصې پاليسۍ لاندې يې کره کتنه وکړے شي بلکې زۀ دا هم نۀ ګڼم چې د پښتنو نه علاوه به بل داسې قام وي چې د هغوي د اصل نسل او بنيادونو بحث پۀ عقيده او نظريه ولاړ وي ځکه پښتون واحد داسې قام دے چې د اصل او نسل بحث يې په تحقيق نۀ بلکې په عقيده او نظريه ولاړ دے د پښتون د اصل او نسل په اړه د مختلفو پوهانو وړاندې کړے شوې نظريو پرتليز جاج اخستلونه وړاندې زۀ دا وضاحت ضروري ګڼم چې دا يو پيچيده موضوع ده او پۀ دې موضوع څۀ ليکل يا وئيل زما لپاره دومره اسان کار نۀ دے خو بيا به هم زما کوشش دا وي چې د خپلې موضوع سره انصاف وکړم .

د پښتون د اصل نسل په اړه چې مختلفو عالمانو/پوهانو/ليکوالانو د خپلې پوهې اوتحقيق پۀ رڼا کښې چې وخت په وخت کومې نظريې وړاندې کړي دي، پۀ هغې کښې وړومبۍ نظريه کومه چې د پخوا نه تر نن ورځې پورې ډېره

مشهوره ده او ډېر ځېړنکار ورسره اتفاق هم کوي، ''چې پښتانهٔ بني اسرائيل دي''. پهٔ دې باب کښې تر ټولو زوړ سند د ابوالفضل ''ائين اکبري'' وړاندې کيږي چې د خپروني کال ئې پنځلس سوه اووهٔ نوي نه تر پنځلس سوه اته نوي دے. د دې نه پس پهٔ کال شپاړس سوه او څلور کښې ''اسرار افغان'' دې نظريې ته لار هواروي خو دا سلسله لا ولاړه نه ده او نعمت الله هروي هم په خپل کتاب ''مخزن افغاني'' کښې ډېر پهٔ ډاګه پښتانهٔ بني اسرائيل ګرځولي دي بلکې د دوي شجره نسب ئې د قېس عبدالرشيد نه تر آدمه ثبت کړے دے. د دې نظريې پهٔ مرستيالو کښې افضل خان خټک، حافظ رحمت خان، روشن خان، قاضي عطاءالله او نور ډېر ليکوالان شامل دي. پهٔ مستشرقينو کښې اليګزنډر برنس ،مسټر راورټي او سر ويليم جونز هم د دې نظريې مرسته کړې ده او دا ګڼي چې پښتانهٔ بني اسرائيل دي.

مياں بهادر شاه ظفر کاکاخېل پهٔ خپل کتاب ''پښتانهٔ د تاريخ په رڼا کښې'' د دې نظريې په اړه ليکي چې:

''د مخزن افغاني او د دې قسم نورو ليکوالانو پهٔ قول د پښتنو وړومبنے مؤرث اعلی ساؤل اسرائيلي دے او دا سړے د يعقوب پهٔ دولسو ځامنو کښې د بن يمين پهٔ اولاد کښې راځي دا مؤرخين وائي چې ساؤل د حضرت شموئيل د پېغمبرى په زمانه کښې د بني اسرائيلو پهٔ درخواست د هغوي بادشاه مقرر شو او بيا د خدائے پهٔ حکم جنګ ته روان شو، د عمالته قام بادشاه جالوت نومېدهٔ چې مېدان ته راووت نو د هغهٔ مقابلې ته د بني اسرائيلو لخوا څوک نهٔ وتل. اخر طالوت پهٔ خپل فوځ کښې دا اعلان وکړو چې کوم سړي د جالوت سر پرېکړو نو زهٔ به خپله لور هغهٔ ته پهٔ نکاح کښې ورکړم او د بادشاهى پهٔ کاروبار کښې به ئې د ځان سره شريک کړم. د اعلان نه پس حضرت داؤد چې هغه وخت د جالوت مقابلې ته روان شو او جالوت يې پهٔ يو کاڼي اويشت او د ټقه يې مړ کړو، سر ئې ترېنه پرې کړو او طالوت ته ئې پېش کړو. طالوت د وعدې مطابق خپله لور داؤد ته وادهٔ کړه او د بادشاهى پهٔ کاروبار کښې ئې هم شريک کړو. څهٔ موده پس طالوت د حضرت داؤد پهٔ حقله بدګمانه شو او ظلم زياتے ئې راواخيست ډېر بني اسرائيل ئې اووژل او د ظلم بازار ئې تود کړو. اخر طالوت پهٔ خپلو ظلمونو ستومانه شو او د خپلو ګناهونو د کفارې پهٔ طور ئې خپل سلطنت حضرت داؤ

د ته اوسپارلو دغه وخت د طالوت دوه ښځې امیدواري وې د هغوي پالنه یې هم داؤد ته حواله کړه او د دې انتظاماتو نه پس د خپل لس ځامنو سره د کفارو خلاف جنګېدلو او هم پهٔ دغې جنګ کښې مړ شو.

د طالوت د هغې دواړو امیدوارو ښځو یو یو ځوئے اوشو، د یو نامه ارمیا او د بل نامه برخیا کېښودلے شوه. حضرت داؤد ع د دې ماشومانو ښهٔ پالنه اوکړه او څهٔ وخت پس چې دوي لوئي شول نو د خپلو ذاتي اوصافو او کمالاتو له کبله برخیا د داؤد ع وزیر اعظم او ارمیا ئې سپه سالار مقرر شو. څهٔ زمانه پس برخیا او ارمیا دواړو ودونه وکړل او دواړو ته خداے یو یو ځوئے ورکړو، برخیا د خپل ځوي نامه اصف او ارمیا د خپل ځوي نامه افغانا کېښوده'' (۱)

بهادر شاه ظفر کاکاخیل ''پښتانهٔ د تاریخ پهٔ رڼا کښې'' وړاندي لیکي چې:

''د حضرت سلیمان ع د وفات نه پینځلس کاله پس د حضور اکرم ص ظهور اوشو او د حضورﷺ د ظهور نه اتهٔ کاله پس حضرت خالد بن ولید چې یو لوئي صحابي، د بني اسرائیلو د قوم یو لوئي سردار او د خالدي افغانانو نیکه ؤ د غور بني اسرائیلو ته یو خط اولیکو چې پهٔ هغې کښې ئې د حضور ﷺ دنبوت او د ظهور خبر ورکړے ؤ. د دې پیغام جواب کښې د غور بني اسرائیلو د خپل یو مشر سردار قیس په مشرۍ کښې د مدینې ته یوه جرګه اولیږله دا جرګه چې مدینې ته اورسېدله نو په حضور ﷺ ئې ایمان راؤړو او حضور ص دې خلقو ته ډېره دعا اوکړه. د جرګې د مشر قیس عبراني نوم ئې هم بدل کړو او اسلامي نوم ئې ورله عبدالرشید کېښود. قیس سره د خپلو ملګرو د مکې په غزوه کښې هم شامل وو او ډېره مړانه ئې ښکاره کړې وه حضور ﷺ قیس ته د ملک او د بطان خطابونه هم ورکړل او وۀ ئې فرمائیل چې دے به زما د دین بطان وي. د بطان لفظ د شام د خلقو په ژبه کښې سینګاوڼ ته وئیلې شوے نو د دې مطلب دا وو چې دے به د خپلو خلقو سینګاوڼ وي. دغه لفظ بیا وروستو د هغې خلقو لخوا پټهان شو.

حضرت خالد بن ولید خپله لور ساره بي بي هم عبدالرشید ته په نکاح ورکړه له هغه ځایه قیس سره د خپلو ملګرو خپلې علاقې ته راغې او د اسلام په خورولو کښې لګیا شو

تر دي چې په ۱۱هجرى کښې په يو جنګ کښې د اووۀ اتياؤ کالو په عمر کښې شهيد شو. د ده درې ځامن وو سړبن، غورغشت اوبېټن . دا درې واړه سړي د موجوده پښتنو د اکثرو قبائلو مؤرثان اعلى دي. قيس په څلور دېرشمه پېړۍ کښې افغانا بن ارميا ته اووۀ دېرشمه پېړۍ کښې طالوت ته پۀ دوه څلوېښتمه پېړۍ کښې حضرت يعقوب ته او پۀ پينځۀ څلوېښتمه پېړۍ کښې حضرت ابراهيم او په درې شپېتمه پېړۍ کښې حضرت آدم ته رسي ''. (۲)

''پښتانۀ بني اسرائيل دي'' د دې نظريې په حقله قاضي عطاءالله خان په خپل کتاب ''د پښتنو تاريخ" کښې ليکي:

''بعضې مؤرخين د پښتنو د يهودي النسل کېدو دا واقعه هم بيانوي چې څۀ وخت نادر شاه (شاه ايران) پۀ هندوستان باندې د حملې کولو پۀ غرض پېښور ته را اورسېدو نو د يوسفزيو مشرانو هغۀ ته د تورات يوه نسخه چې پۀ عبرانی ژبه کښې ليکلے شوې وه پېش کړه او نور هم داسې څيزونه ئې ورته ښکاره کړل چې کوم به د ورومبنی زمانې يهوديانو پۀ خپلو عبادتونو کښې استعمالول او کوم يهوديان چې د نادر شاه پۀ فوځ کښې شامل وو هغوي دا ټول څيزونه اوپېژندل او دوي يهودي النسل کېدل ئې تسليم کړل '' (۳)

د دې نظريې په اړه شاغلے روشن خان پۀ ''د پښتنو اصليت او د هغوي تاريخ'' کښې ليکي چې: ''د پښتون قام نسلي تړون د وطن نه شړلے شوي هغه بني اسرائيلو سره دے کوم چې اشوريانواو د بابل اوسېدونکيو پرله پسې د هغوي وطن شام او ګېرچاپېره علاقو نه پۀ وتو مجبوره کړل او د چاپاډي چې د بابل د خوا علاقو نه علاوه د ايران او خراسان علاقو نه واخله تر اباسين وادی پورې مېريانويعنې آريا په مېنځ کښې خوره پرته وه. دا قام ورومبے په موسوي او وروستو په عيسوي شريعت باندې قائم وو او کله چې دوي ته د حضور ﷺ د اسلام بلنه اورسېده نو دوي اسلام قبول کړو غرض دا چې يهوديت او عيسائيت پۀ کوم دين چې دوي ولاړ وو دوي هغه تنده ماته نۀ کړے شوه کومه چې اسلام ماته کړه او موسوي او عيسوي تعليمات ئې سر ته اورسولو د اسلام په وجه دوي کښې نوے ژوند راپېدا شو او ماهو په سوري ، شيخ حميد لودهي او پۀ خصوصي توګه د شهاب الدين غوري د التدار دور کښې دشت لوط يا باديۀ ايران مشرقي غرونو نه پۀ لوري د اباسين وادی پورې پۀ هغه

ټوله علاقه قبضه بيا مونده او اباد شو د کومو نه چې دوي د ساسانيانو او تاتارو د غلبې تر مخه هجرت کړے وو د محمد غوري مشرۍ کښې پنجاب او سنده باندې قبضه کولو سره تر بنګاله او آسامه د بادشاهانو په حېثيت کښې راوورسېدل'' (۴)

د قاضي عطاءالله او روشن خان ليکنې په شکاره توګه د دې نظريې مرستيال دي او دا ګڼي چې پښتانۀ بني اسرائيل دي. ګو چې بهادر شاه ظفر کاکاخېل خو د دې نظريې مرستيال نۀ دے خو هغه چونکې په خپل کتاب ''پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې'' د نعمت الله هروي د ''مخزن افغاني'' حواله ورکړې ده او ډېر په شائيسته انداز کښې ئې د دې نظريې وضاحت کړے دے نو ځکه مې دلته د کاکا خېل د کتاب نه حواله ورکول ضروري وۀ ګڼل .

د پښتنو د اصل نسل په اړه بله لويه نظريه دا ده چې پښتانۀ ''آرئين دي''. په پښتنو ليکوالانو کښې د دې نظريې په مرستيالوکښې احمد علي کهزاد، صديق الله رېښتين، قيام الدين خادم، عبدالحئ حبيبي، دوست شنواري، مياں بهادر شاه ظفر کاکاخېل او حسين بخش شامل دي. د پښتنو ليکوالانو نه علاوه په مستشرقينو کښې سر اولف کېرو هم دا ګڼي چې پښتانۀ په اصل کښې آرئين دي. پرته له دې نور هم بلها خلق شته چې د دې نظريې سره اتفاق لري او دا ګڼي چې پښتانۀ نژادي طور آريا يا هند يورپي خلق دي.

بهادر شاه ظفر کاکاخېل ''پښتانۀ د تاريخ په رڼا کښې'' د دې نظرئې په اړه څۀ داسې ليکي چې:

''د پښتنو د اصل نسل په حقله يوه بله مشهوره نظريه دا ده چې پښتانۀ د هغه آريائي قبائلو يوه څانګه ده کوم چې په تاريخ کښې د هندو آروپائي آرياګانو په نامه مشهور دي. دا نظريه د لفظ پښتنو او پښتو ژبې په تاريخ او لغوي څېړنې مبني ده'' (۵)

کاکاخېل دا خبره هم په ډاګه کړې ده چې د ځينې پوهانو د وينا تر مخه د آريائي قومونو ورومبنے مسکن د شمالي يورپ ملکونه يعني سکنډے نېاپا يا فن لېنډ يا ډبليوب سيند ناوه (وادي) ښودلې شوې ده او د ځينې عالمانو د وينا تر مخه د بحيره اسود شمالي غاړې د دې قام اولنے استوګن ګڼلے کيږي

ولې اکثر مؤرخین او عالمان دې عقیدې ته مائل دي چې د آریائي اقوامو وړومبنے مسکن د پامیر لوړې او رود آمو سرچینې دي. بهر حال د آریائي قومونو وړومبنے ټاټوبے چې هر چرته وو خو دا خبره ثبوت ته رسېدلې ده چې د آریائي قومونو د استوګنې ځائے باختر وو. هم د باختر د استوګنې په دوران کښې ددوي ژوند ژواک ډېر ساده باده وو او زیات تره عادتونه ئې لکه د شپونکیانو وو. په مذهبي عادتونوکښې ئې هم ساده والې وو او د دیویانو پهٔ نسبت ئې دیوتاګانو فوقیت لرلو. د وخت سره سره د باختر په ورشوګانو کښې د دوي آبادي زیاته شوه نو مهاجرت ته مجبوره شول خو ولې د دوي دا مهاجرت په یو وخت نه وو. د باختري آرین یو ښاخ چې د هندي آرین پهٔ نامه پېژندل شي د هندوکش په درو راتېر شول. د دې ښاخ څهٔ قبیلې د کابل د سیند په لاره د لغمان په علاقه کښې مېشتهٔ شوې او په لاره لاره د کونړ سیند ته راووتلې او په آباسین پورې شوې او په پنجاب کښې مېشتهٔ شوې. د وخت سره سره آرئین د مشرق په لور پښې اوغزولې او د ګنګا جمنا مېدانونه ئې هم لاندې کړل او د هندو پاک ټوله شمال مغرب علاقه ئې په خپله قبضه کښې راوسته. د باختر د زمکې نه چې د آریائي قومونو هجرت اوکړو نو پسمانده قبائلو ته زمکې اوزګارې پاتې شوې کوم چې د باختري آرئین په نامه یادېږي او د دې نظرئې د مرستیالو په خیال کښې هم دغه آریائي قبائل د موجوده پښتنو اسلاف دي" (۶)

د پښتنو په حقله بعضې خلق دا وینا هم کوي چې پښتانهٔ پهٔ اصل کښې ایراني النژاد دي او د مشرقي ایران نه راغلي دي. او د دوي ژبه هم د اندو ایراني ښاخ سره ترون لري. د دې نظریې په حقله جمیل یوسفزي په ''پشتونوں کی جڑیں'' کښې لیکي چې:

(ترجمه) ''پښتانهٔ سفید فام (Caucasoid) خلق دي. د دوي خدوخال یوریشائي (Eurisian) دے. د دوي تعلق د مشرقي ایران د خلقو سره دے او د دوي ژبه پښتو مشرقي ایراني ژبو کښې شامله ده. یونانیانو پښتانهٔ د سائتهین (Scythians) پهٔ نوم پېژندل خو د یوناني مؤرخینو مطابق هغوي خپل ځان ته سائتهین نهٔ بلکې سکتون (Saktoon) وئیل. سکتون پهٔ اصل کښې د پښتنو یوناني تلفظ دے. پهٔ یونانی ژبه کښې چونکې د (ش)

تورے نۀ استعمالیږي او د (ش) پۀ ځاے هغوي (س) وائي، لکه ''کورش'' ته ''سائرس'' وائي او ''آرشام'' ته ''آرسامي'' وېشتاسپ ته هېستاپس (Hystaspes) ، داراپوش ته داراېوس (Darius) او اردشېر ته آتاکس (Artaxyes) وائي. دغه شان یونانیانو پښتنو ته د پښتون په ځاے سکتون لیکلے دے. سطح مرتفع پامیر چې د ډېرو قومونو د اوسېدو ځاے وو پۀ مختلفو زمانو کښې د دې ځاے نه په یو بل پسې د ډېرو قومونو او قبیلو سېلبونه تلي دي. پۀ دې کښې ځینې په وسط اېشیا کښې آباد شول او ځینې قومونه د وسط اېشیا نه لاندې کوز شول پۀ جنوب او مغرب اېشیا کښې مقیم شول. د دې قبیلو غټ ښاخ هغه وو کوم چې د بهیره اسود نه واخله تر دریائے ډینوب د اوچتو وادو پورې خور شوے وو. دې خلقو ته به یونانیانو سائتهین وئیل خو ایرانیانو به دې ټولو خلقو ته ''ساکا'' وئیل. حالانکې ساکا د سائتهین یوه قبیله وه. دې خلقو به په خپله خپل ځان ته سکتون یعني پښتون وئیل''. (۷)

د بره ورکړے شوې حوالې نه دا ښکاره کیږي چې جمیل یوسفزي د پښتنو او ایرانیانو د جغرافیایي تړون او لسانیاتي مشابهت په بنیاد د دې موقف تائید څرګند کړے دے چې پښتانۀ په اصل کښې ایرانیان دي او د دوي تعلق د مشرقي ایران د خلقو سره دے .

د پښتنو د اصل نسل په حقله یوه نظریه دا هم ده چې پښتانۀ د ابراهیم نه د بي بي قطورې اولاد دے او په دې لحاظ سره پښتانۀ نسلاً بني قطوره دي. شاغلے بهادر شاه ظفر کاکاخېل په خپل کتاب ''پښتانۀ د تاریخ په رڼا کښې'' د دې نظریې په اړه واضحه کړې ده چې ''د پښتنو د اصل نسل پۀ باب کښې ځینې خلق دا نظریه لري چې دوئي د حضرت ابراهیم نه د بي بي قطورې اولاد دے. په دې لحاظ سره د دې نظریې مطابق پښتانۀ نسلاً بني قطوره دي او د دې نظریې مرستیال دا وائي چې د بي بي ساره دوفات نه پس حضرت ابراهیم بي بي قطوره په خپل زوجیت کښې واخسته او د هغې نه ئې شپږ ځامن اوشول د کومو نومونه چې د تورات مطابق ''زمدارن، یمسان، مېدان، مدیان، اسباق او سوخ'' شودلےشوي دي. خو په تورات کښې صرف د یمسان او مدیان د اولاد ذکر شوے دے.

کاکاخېل صېب دا هم زیاته کړي ده چې ددې نظریې د لیکوالو په خیال دا خلق وړومبے په سرزمین ایکې کښې آباد وو او بیا د مزکې نه پۀ وتلو مجبوره شول نو د مشرق په لور اوکوچېدل او د ایران پۀ قطبي قبلئیزه علاقه کښې مېشتۀ شول. د زماني پۀ تېرېدو سره دا خلق د پشت پۀ علاقه کښې استوګن شول. د دې نظریې مطابق د دې علاقې استوګن د زماني پۀ تېرېدو سره اول پاشین او بیا وروستو د پشتون او پشتانۀ په نامه مشهور شول''. (۸)

د پښتنو د شجرې په حقله بعضې مؤرخین او محققین دا خبره هم ډېره په دعوې سره کوې چې پښتانۀ په اصل کښې یونانیان دي. د دې نظریې په حواله د پښتو ادب ستر شخصیت ''خان عبدالغني خان'' نوم سر فهرست دے. هغه د پښتون تړون د یونانیانو سره کړے دے او څۀ داسې ئې لیکلي دي چې:

''د دۀ د کلي نومونه پۀ یوناني ژبه کښې دي د دۀ د قبیلو دود دستور هم د یونانیانو پۀ شان دے. د یونانیانو پۀ شان پښتون ستر شاعر او جنګیالے هم دے او هم د هغوئي پۀ شان د دۀ اکثر جنګونه د زنانه ؤ په سر کیږي. پښتانۀ څۀ لیکلے تاریخ نۀ لري خو ولې داسې په زړګونو آثار لري چې د تاریخ برخه ده. د نسل پۀ لحاظ پښتون بلکل یونانےدے چې نسل ئې پۀ خپلو کښې په څۀ وجه یو شوے دے او هغه کومه وجه ده دې باره کښې معلومات نشته او نۀ زۀ په دې حقله څۀ فکرمندي لرم. پینځۀ زره کاله مخکښې چې هر څۀ تېر شوي دي د هغې باره کښې څۀ باک نشته ولې دا خبره هم په ډاګه ده چې د دۀ مسلمانېدو نه وړاندې پښتانۀ آریا (بدهـــ مت) وو او د بدهـــ مت نه وړاندې هندوان وو''. (۹)

د دې نظریې په اړه ''غني خان'' په خپل کتاب (The Pathan) کښې دا خبره داسې ډېره واضحه نه ده کړې خو صرف د خوي خصلت په بنیاد یې پښتانۀ یونانیان ګرځولي دي چې ګنې پښتانۀ هم د یونانیانو په شان دود دستور او خوي خصلت لري او دواړه قامونه یوشان جنګیالي هم دي او دا خبره ئې هم زیاته کړې ده چې پښتانۀ او یونانیان کۀ پۀ څۀ وجه هم نسلاً یو شوي دي نو دې باره کښې زۀ څۀ معلومات نۀ لرم او نۀ داسې خاص فکرمند یم. مشهور مستشرق اولف کېرو هم د دې نظریې په مرستالو کښې راځي او د پښتونخوا د خلقو نه په اورېدلو

قیصو او د افریدیانو شینوارو په ظاهري مشابهت او جسماني جوړښت پښتانهٔ د یونانیانو سره مشابه ګرځوي.

د پښتون د نسل په حقله یوه بله نظریه چې د نن نه څو کاله وړاندې عبدالصبور اېډوکېټ په وړومبي ځل وړاندې کړې ده چې پښتانهٔ بني اسحاق دي. عبدالصبور اېډوکېټ په ''پشتون بن اسحاق'' کښې لیکلي چې:

(ترجمه) ''پښتنو کښې دا عقیده نسل در نسل راروانه ده چې مونږ د حضرت یعقوب اولاد یو. حضرت یعقوب چې د حضرت اسحاق ځوے او د حضرت ابراهیم نمسے وهٔ. د هغهٔ عبراني نوم اسرائیل وو او د هغهٔ اولاد هم د بني اسرائیل په نوم یادیږي. حضرت ابراهیم د ځوي حضرت اسماعیل نه بني اسماعیل یعني عرب قوم او د حضرت اسحاق او د هغهٔ ځوے حضرت یعقوب نه د بني اسرائیلونسل اوچلیدو.

د پښتنو کومو قبیلو ته چې خپلې نسبي شجرې یادې نهٔ دي پاتې هغوي ځان ته بني اسحاق وائي نو دا به هغوي ته ډیره باعزته پېژندګلو وي. دغه شان د کومو قبیلو نسبي شجرې چې د کومې پورې واضحه او مکمل دي هغوي دې هم د ذیلي قبیلو نه خپل شناخت اوکړي خو په مجموعي حیثیت دې پښتون قوم بني اسحاق اوګڼي کوم چې د دوي د نیکهٔ نوم دے، نو پښتني قبیلي څلور زره کاله مخکښې پورې یؤ کیدلے شي. کوم خلق چې پښتو وائي او په خپل دستور حیات یعني پښتونولی قائم دي هغه ټول پښتانهٔ دي او اصلاً بني اسحاق دي.'' (۱۰)

کهٔ مونږه اوګورو نو د دې نظریې په اړه د عبدالصبور اېډوکېټ نه علاوه بل کوم لیکوال یا مؤرخ نشته چې د دې نظریې مرستیال وي او شاغلي اېډوکېټ هم خاص دلیل د دې نظریې په اړه نهٔ دے وړاندې کړے خو دا خبره یې کړې ده چې کوم خلق صرف پښتو ژبه وائي او په پښتونولی کلک ولاړ دي نو هغه ټول پښتانهٔ دي او هم دغه خلق په اصل کښې د اسحاق په اولاد کښې راځي یعني پښتانهٔ ټول په ټول بني اسحاق دي.

د پښتنو د اصل نسل په باب له یوه بله نظریه دا هم ده چې پښتانهٔ آرمینیان دي. په وړومبني ځل باندې دا نظریه کروسنسکي وړاندې کړې وه او وروستو بیا نورو مؤرخینو هم د دې نظریې په حقله خپل دلائل پېش کړي دي. محترم اثر جان

صېب ''د پښتنو نسلي څېړنه'' کښې د دې نظريې په حقله څۀ داسې ليکي چې:

''دا وړاندېز وړومبے کروسنسکي وړاندې کړے وو. داسې برېښي چې د دۀ مآخذ تاريخ منتظم ناصري وۀ بيا وروستو جارج کېپل او بېليو پۀ خپلو دلائلو دې وړاندېز له وده ورکړه. پۀ اصل کښې د دې وړاندېز بنياد د لفظ افغان او اوغان باهمي يو شان والے او هغه تت روايات دي د کومو ترمېنځه چې افغانانو پۀ يوه زمانه کښې پۀ آرمينيا کښې مېشته وو. د کروسنسکي پۀ وينا دا بلکل مبهمه او نامعلومه ده چې پۀ بنيادي توګه دوي د شېروان يا د هغه ولايت دي چې د بحيره کېپسئن پۀ غاړه د داغستان په لوري دي يا د هغه محدا دي چې د دغه ولايت سره پوله لري او د باب الابواب نه پورې ده.'' (۱۱)

د دې نظريې په اړه هم مونږ ته څۀ داسې خاص دليل پۀ نظر نه راځي چې پښتانۀ ګني آرمينيان دي. خو کروسنسکي د دې نظريې بنياد د لفظ افغان يا اوغان د باهمي يوشان والي په اډانه ودرولے دے او دا هم د هغه تت رواياتو سلسله ده د کومو ترمېنځه چې په يوه زمانه کښې د پښتنو استوګن آرمينيا شودلے شوے دے.

د پښتنو د اصل نسل په اړه د وړاندې ذکر کړے شوي نظريو نه علاوه يوه نظريه دا هم ده چې د پښتنو نسل د ''هن'' قام سره نسبت لري. دا هن په اصل کښې تاتاريان وو چا چې په شروع کښې د کندهارا تهذيب تباه کړے وو. شاغلے اثر جان د دې نظريې په حقله د ''پښتنو نسلي څېړنه'' کښې څۀ داسې ليکي:

''د دې وړاندېز تر مخې پښتانه پۀ نسب هن دي . هن پۀ اصل کښې تاتاريان وو. دې قبيلې پۀ خپل وړومبني چپاؤنو کښې ګندهارا دل ول کړے وۀ او بيا ئې بتدريج پۀ پنجاب يرغلې کړې وې. په ۱۱۸ء کښې د ګپتاتبر اخري راجه له د ماتې نه پس دوي خپلې باچائي له پرمختګ او استحکام ورکړے وۀ ـ ايرانيانو دا قام په افتالي او هفتالي نومونو ياد کړے دے. بل طرف ته عربيانو دوي په هيطل يا هيطاله نومولي دي. د هن نظريې سره تړون لرونکي څېړنکار د پښتنو ابدالي يا افطالي (هن) يوه قبيله ګرځوي.'' (۱۲)

د پښتنو د اصل نسل په حقله مؤرخينو او پوهانو دا نظريه هم وړاندې کړې ده چې پښتانۀ نۀ بني اسرائيل دي، نۀ بني قطوره او نۀ يونانيان بلکې پښتانۀ صرف پښتانۀ دي. د دې نظريې وړاندېز په وړومبي ځل مولانا عبدالقادر صېب د انګرېز مؤرخ اولف کرک پېټرېک کروز (اولف کېرو) په کتاب ''دې پټانز (The Pathans)'' پۀ مقدمه کښې کړے دے چا چې د انګلستان د نامتو پوهنتون اکسفورډ نه لوړې زده کړې تر سره کړې وې او پۀ لومړي نړي وال جنګ کښې د پنجاب د پوځ يو افسر وۀ.

مولانا عبدالقادر صېب ''دې پټانز'' په مقدمه کښې ليکي:

ترجمه: ''پښتون قوم د آريا، سامي يا منګول نسلونو سره منسوب کول زما پۀ دې مختصره تبصره کښې يقيناً چې بې ځايه به وي. بغېر د څه شک نه د دې قوم تعلق به ضرور د نورو قومونو سره پاتې شوے وي خو دوي د آريا يا هدي آريا يا دويم درېم سره منسوب کول پخپله د دې نسل د اصل ورکولو مترادف دي. پښتون قوم بس پښتون نسل دے. د عوامي رواياتو او زوړوالي پۀ لحاظ پکار دي چې دا د يو بل قوم د لکی سره او نۀ تړلے شي. پۀ دې خيال کښې څۀ عېب نشته او کۀ مؤرخين يا مفکرين د دې خيال تائيد يا طرفدارے نۀ هم کوي يا د دې مخالفت کوي نو بيا هم د دې سره د پښتنو پۀ نسل، قدامت (زوړوالي)، اوچت مقام او اعلی رواياتو کښې څۀ فرق نه شي راتلے'' (١٣)

د دې نظريې په حقله پروفېسر پرېشان خټک پۀ ''پښتون کون'' کښې زياتوي چې:

ترجمه: ''د پښتون او پښتونولی تعلق پخپلو کښې د روح او جسم دي. پښتون د پښتونولی نه بغېر نۀ پاتې کېدے شي او نۀ پېژندے شي او زما د مطالعې نچوړ دا دے چې دا پښتون پېدا شوے وۀ د دې مطلب هم دا دے چې دا ځومره پۀ وروستو بوخې نو هغه هومره به ئې خالص او سوچه پائے. دا هغه ضابطه اخلاق دي چې دا کۀ د يو خالص نسل پښتون ابن پښتون پۀ عادتونو او خصلتونو کښې د دې شکاره اثر نۀ وۀ نو بيا پښتانۀ د داسي کس د پښتون منلو نه انکار کوي. د دې برعکس کۀ پۀ يو پېژندګلو غېر پښتون کښې د دې ضابطه اخلاق جهلک پۀ نظر راځي نو پښتانۀ زر هغۀ ته پښتون وائي او د دې ټولي

ضابطې دپاره صرف يو لفظ پښتون مخصوص دے ځکه پښتو د دوي ژبه، پښتو د دوي رسم و رواج، پښتو د دوي قانون، پښتو د دوي تهذيب او ثقافت او پښتو د دوي اغوستل او خوړل دي. او دغه د پښتون جوړېدلو معيار هم دے او تله هم.'' (۱۴)

د وړاندې ذکر کړے شوي نظريو نه علاوه د پښتنو د اصل نسل په باره کښې نوري نظريې هم خلق وړاندې کوي لکه چا پښتانۀ ساکا، عبرانيان يا مخلوط النسل ګڼلي دي او پښتانۀ د هغوي د خپل عنعوني رواياتو په اساس قبطيان (فرعوني لړی) ګڼلي دي. که چا د مغلو او هپتاليانو په قطار کښې ودرولي نو چا په عېن وخت کښې له راجپوتانو، برهمنانو ترکانو او نورو سره ورګډ کړي دي. خو د پښتنو د اصل او نسب په باره کی تر ټولو عام او بيخي زوړ هغه نظر دے چې وائي پښتانۀ بنی اسرائيل دي. د پښتنونو ليکوالانو نه علاوه مستشرقينو لکه اليکزينډر پرنس، مسټر راورټي او سروليم جونز هم د دې نظريې مرستيال دي. او پښتون کۀ نسلاً بني اسرائيل شي نو هغه نن سبا د يهودو سره په علميت، دولت او تجارت کښې سيالي نۀ شي کولے نو صرف په نسلي اشتراک د يهودو سره د پښتون فخر به تر کومه جائز وي بل اړخ ته د پښتنو د اصل نسل په حقله دوېمه لويه نظريه دا ګڼل کيږي چې پښتانۀ د لسو آريايي قبيلو څخه يوه قبيله ده چې په ريګويد کښې د (پکته، پکتويس، پکهت او پښتون) په نومونو ياد شوي او په باختر کې د استوګنې له کبله په باختري يا بخدي هم ياد شوي دي. او هم دغه شان کۀ پښتون آرئين النسل ثابت شي نو څو پورې چې پښتانۀ د ترلی په منده کښې آريائي قومونو سره سيال شوي نۀ وي نو تر هغې پورې هغه آرياتوب پښتون ته هيڅ فائده نۀ شي ورکولے .

د دې ټولو نظريو د پرتليز جاج اغستو نه پس چې زۀ په خپله کومې نقطې ته اورسېدم او کومه خبره ماته واضحه شوه نو هغه دا ده چې واقعي پښتانۀ، پښتانۀ دي. کۀ چا پښتانۀ د دوي د خوي خصلت ،قدامت يا لساني مشابهت په بنياد نورو قومونو ته ورته ګڼلي وي خو په اصل کښې پښتانۀ يو ډير زوړ قوم دے کوم چې په دې خاؤره شايد د ټولو نه وړومبے قوم او نسل وي. او د انګريز مؤرخ اولف کېرو په کتاب "دي پټانز" (The Pathans) کښې د عبدالقادر صېب ليکلي شوي مقدمه هم د دې خبرې په واضحه توګه دلالت کوي چې د پښتون قوم تعلق به ضرور

د نورو قومونو سره په څه نه څه شکل کښې پاتې وي خو په اصل کښې پښتانهٔ يو ځانګړے قوم دے او دوئي د آريا، سامي يا منګول نسلونو سره منسوب کول يقيناً چې بې ځايه دي او پښتون بس پښتون دے.

حواله جات


١. کاکاخېل، ميان بهادر شاه ظفر، پښتانهٔ د تاريخ په رڼا کښې، يونيورستي بک ايجنسي خېبر بازار پېښور، ٢٠١٦، مخ نمبر ١٦ ــ ١٧

[٢]. کاکاخېل، ميان بهادر شاه ظفر، پښتانهٔ د تاريخ په رڼا کښې، يونيورستي بک ايجنسي خېبر بازار پېښور، ٢٠١٦، مخ نمبر١٨

[٣]. عطاء الله خان، قاضي، د پښتنو تاريخ، اول جلد، اداره اشاعت سرحد قصه خواني پېښور، دوېم ځل ١٩٦٢، مخ نمبر ١٠

[٤]. خان، روشن، د پښتنو اصليت او د هغوئي تاريخ، ژباړه نرګس سيماب، عامر پرنټنګ ايجنسي پېښور، ٢٠١١، مخ نمبر ٥٧

[٥]. کاکاخېل، بهادر شاه ظفر، پښتانهٔ د تاريخ په رڼا کښې، يونيورستي بک ايجنسي خېبر بازار پېښور، ٢٠١٦، مخ نمبر ٥١ ــ ٥٢

[٦]. هم دغه، مخ نمبر ٥٥

٧. یوسفزے، محمد جمیل ،**پشتون کی جڑیں**، پرنټنګ پرېس بټخېله، اکتوبر ۲۰۱۶، مخ نمبر۱۴

٨. کاکاخېل، بهادر شاه ظفر ،پښتانهٔ د تاریخ په رڼا کښې، یونیورسټي بک اېجنسي خېبر بازار پېښور، ۲۰۱۶، مخ نمبر ۵۷

٩. غني خان ،پښتون، ترجمه ګلزار جلال یوسفزی، منظور عام پرېس، خېبر بازار پېښور، جنوري۲۰۰۰، مخ نمبر ۱۹

١٠. اېډوکېټ، عبدالصبور ،پښتانه بني اسحاق دي،جدون پرېس، مخ نمبر ۸۰

١١. جان، اثر ، د پښتنو نسلي څېړنه، جدون پرېس پېښور، مئي ۲۰۱۲، مخ نمبر ۲۶

١٢. هم دغه ، مخ نمبر ۳۰

١٣. کېرو، سر اولف،دي پټانز، ژباړه سید محبوب علي، جدون پرېس پېښور، ۱۹۸۸، مخ نمبر ۲۹

١٤. خټک، پرېشان ،پښتون کون، جدون پرېس پېښور، ۱۹۸۴، مخ نمبر ۱۲۸